# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۴۰۰ د چنګاښ ۱۳مه | د ۲۰۲۱ د جولای څلورمه | ۷۴۳مه ګڼه


## د بګرام هوايي اډې له تخلیې وروسته؛

### وال سټریټ ژورنال: امریکا له افغانستانه د خپلو ډیپلوماټانو پر اضطراري ایستلو کار کوي



۳

### د جو بایډن لپاره بد خبر، د افغانانو لپاره پر ښه خبر بدلېدلی شي؟

۲ مخ

### پلان شوې جګړه او بې پلانه سوله

۲ مخ

### د افغانستان وضعیت پر کومه روان دی؟

۳ مخ

## بهرنیو چارو وزارت: په افغانستان کې د تاوتریخوالي ډېرېدو د سیمې امنیت هم له ګواښ سره مخ کړی

بهرنیو چارو وزارت وايي، په افغانستان کې د طالبانو د تاوتریخوالي ډېرېدل سیمه‌ییز امنیت هم له ګواښ سره مخ کولی شي.
دغه وزارت په یوې اعلامیې کې ویلي، په داسې حال کې چې له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو بهیر د بشپړېدو په حال کې دی، طالبانو په هېواد کې خپلو بریدونو ته زور ورکړی او دا چاره د سیمه‌ییز ثبات هم ګواښلی شي. دا په داسې حال کې ده چې د روسیې د بهرنیو چارو وزارت ویاندې ماریا زاخاروا تېره اونۍ په افغانستان کې د طالبانو د بریدونو د زیاتوالي په اړه اندېښنه ښودلې وه او په دغه هېواد کې د جګړې له ښکېلو خواوو څخه یې غوښتي وو چې جګړه پای ته ورسوي او په افغانستان کې د تلپاتې سولې لپاره رغنده مذاکرات پیل کړي.
د نوموړې په خبره، د جګړې ښکېل لوري باید په افغانستان کې د تلپاتې سولې ټینګېدو لپاره خپلې هڅې یوازې تر خبرو نه، بلکې واقعي اقدامات تر سره کړي.
خو د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت زیاته کړې: «طالبانو سولې ته د رسېدو لپاره خپلې ژمنې نه دي ترسره کړي او د تاوتریخوالي کچه یې هغې کچې ته لوړه کړې، چې حتی د سیمې امنیت او ثبات له ګواښ سره مخ کوي.»

## ملي او نړیوال بنسټونه: ملګري ملتونه دې د افغان ملکیانو پر وړاندې شوي جنایتونه وڅېړي



۲ مخ

پوهنتون

۴ مخ

## علامه د لوړو زده کړو موسسه

یادې موسسې د خپلو محصلینو او استادانو د علمي سویې د لوړولو په موخه له ځینو بهرنیو پوهنتونونو سره د علمي اړیکو تفاهم لیکونه لاسلیک کړي، چې له مخې یې کولی شي خپلې تجربې او لاسته راوړنې سره شریکې کړي.




## کرنې ریاست: په پکتیا کې د ۳۶ میلیونه افغانیو په لګښت لس استنادي دیوالونه جوړېږي



د پکتیا ولایت چارواکي وايي، چې د کرنې وزارت د کرنې او خوړو خوندیتوب بېړنۍ پروژې او د یاد ولایت د سیمه ییزو شوراګانو ترمنځ د لسو استنادي دېوالونو د رغولو تړونونه لاسلیک شول.
د یاد ولایت د کرنې رییس محمد دین مومند وايي، چې د یادو لسو پروژو ۹۰ سلنه لګښت د کرنې وزارت او لس سلنه لګښت یې د کلیوالي شوراګانو له خوا ورکول کېږي، چې د پکتیا د مرکز په ګډون د دغه ولایت د احمد خېلو، ډنډ پټان او شواک ولسوالیو اړوند په بېلابېلو سیمو کې به یې چارې پیل شي.د مومند په خبره، د دغو پروژو په پلې کېدو سره زرګونه جریبه ځمکه خوندي او د سیمې خلکو ته د کار زمینه برابرېږي. نوموړی دغه راز زیاتوي، د دغو پروژو ټولیز لګښت ۳۶ میلیونه افغانۍ دی، چې د دریو میاشتو په ترځ کې بشپړېږي او موخه یې له تخریب څخه د کرنیزو ځمکو خوندي کول، د اوبو د ضایعاتو مخنیوی او د اوبو د لارو چارو سمون دی.

## برشنا شرکت: در شش ماه گذشته ۳۹ پایه برق وارداتی در کشور تخریب شده است



طبق اعلام شرکت برشنا، در شش ماه گذشته ۳۹ پایه برق وارداتی در کشور با انفجار ماین منهدم و تخریب شده است. این شرکت از مردم خواسته است که برای چگونه‌گی حفاظت پایه‌های برق طرح ارائه کنند.
شرکت برشنا می‌گوید که انهدام و تخریب ۳۹ پایه برق در شش ماه گذشته میلیون‌ها افغانی هزینه روی دست این شرکت گذاشته است. افزون بر این تخریب پایه‌های برق که بیش‌تر در شمال کابل به وقوع می‌پیوندد، سبب قطعی برق در کابل و ولایت‌های مسیر برق وارداتی شده است.
شرکت برشنا حفاظت از پایه‌های برق را مسوولیت همه شهروندان به ویژه نیروهای امنیتی توصیف کرده است.
این شرکت از همه شهروندان کشور خواسته است که طرح خود را برای حفاظت و جلوگیری از انهدام پایه‌های برق ارائه کنند.
عبدالظاهر سالنگی، نماینده پروان در ولسی جرگه، پیش‌تر برای شناسایی عاملان تخریب پایه‌های برق ۵۰۰ هزار افغانی جایزه تعیین کرده بود. در پی تخریب پایه برق در پروان و نیز واژگون شدن دو پایه در ولسوالی پغمان کابل اکنون نیز برق بخشی از پایتخت قطع شده است.


Aksos ®
اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملګری کړئ

کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652
Aksos Book Store
www.aksosbookstore.af
aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

### د جو بایډن لپاره بد خبر، د افغانانو لپاره پر ښه خبر بدلېدلی شي؟

له بگرام هوایي اډې د ټولو امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته د امریکا ولسمشر جو بایډن د ژورنالېستانو له پرلهپسې پوښتنو سره مخ شو. بایډن چې په یوه خبري کنفرانس کې خبرې کولې، دغو پوښتنو ناارامه کړ او غوښتنه یې وکړه چې «د خوښۍ د خبرونو» په اړه ترې وپوښتل شي؛ لکه دا چې د امریکا اقتصاد ښه وده کړې او د کرونا ویروس نوي سلنه کم شوی دی. د بگرام له هوایي اډې څخه د ټولو امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته اوس امریکایي چارواکي له دې پوښتنو سره مخ دي، چې په افغانستان کې څه پېښېدونکي دي او د دوی راتلونکي گامونه به څه وي؟
په افغانستان کې د امریکا جگړه د وروستیو امریکایي ولسمشرانو لپاره په واقعي مانا یو سرخوږی و، ځکه چې امریکایي ځواکونه په افغانستان کې له مرگژوبلې سره مخ وو، امریکا میلیاردونه ډالره لگول او جگړه یې کوله، خو دوی له دې سره سره طالبان مات نه شوی کړلی، بلکې طالبان لا پیاوړي کېدل او زیاتې سیمې یې لاندې کولې. د امریکایي ځواکونو پر وړاندې نفرت ورځ تر بلې زیاتېده او د امریکا له ملاتړه برخمن حکومت هم په پراخ فساد او خپلمنځي اختلاف کې ډوب و. له همدې امله ورځ تر بلې د امریکا بېړۍ په افغانستان کې ډوبېده، جگړه اوږدېده او امریکا د ماتې خوا ته روانه وه. امریکایي ولسمشرانو به پرلهپسې د افغانستان د جگړې د ختمولو ژمنې کولې، خو نه توانېدل چې بالاخره پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ په یو ډول خپله ماتې ومنله او د لویې ناکامۍ د مخنیوي لپاره له طالبانو سره خبرو ته کېناست، هوکړه یې وکړه او له افغانستان څخه یې د امریکایي ځواکونو وتل پیل کړل چې پاتې یې هم دا دې نوی ولسمشر جوبایډن تکمیلوي.
امریکایي ځواکونه وځي او امریکا به بیا هم په افغانستان کې یو ډول ښکېله وي، ځکه د افغانستان راتلونکي مخامخ پر امریکا اغېز کوي. اوس هم امریکا ته سخته ده چې حالات کنټرول کړي او خپل ځان ته د ممکنه زیان مخه ونیسي. د دې تر څنگ له افغانستان څخه د امریکایانو وتل او بیا د بگرام په شان د لویې اډې پرېښودل د امریکا د ماتې تصویر ورکوي. همدا تصویر د امریکا د زبرځواکۍ حیثیت ته زیان اړوي او همدا هر امریکایي مشر ځوروي او آن په دې اړه خبرې یې هم ناراموي.
که د بگرام هوایي او نظامي اډه د امریکایي ولسمشر لپاره بد خبر شوه، خو د امریکایي ځواکونو وتل د هر افغان لپاره ښه خبر دی او پرې خوشاله دي. امریکا به هڅه وکړي چې د ځان لپاره دا بد خبر زموږ لپاره هم بد خبر کړي، خو افغانان باید اجازه ور نه کړي. په افغانستان کې د جگړې دوام او د سولې مخنیوی هغه څه دي چې زموږ ښه خبر پر بد خبر بدلولی شي. له همدې امله د جگړې ټول ښکېل لوري او عام خلک باید په ټول توان هڅه وکړي چې د سولې او سیاسي جوړجاړي له لارې د خپلمنځي جگړې مخه ونیسي. امریکا او نور به هڅه وکړي او کوي یې چې د سولې خبرې ناکامې شي او جگړه دوام وکړي، خو موږ باید دا هڅې شنډې کړو، یو بل ته لاسونه ورکړو، سوله وکړو او د تېر پر خلاف ثابته کړو چې موږ د جگړې په ډگر کې د بریا تر څنگ په سیاسي ډگر کې هم بریا خپلوو، خپل ځان، خپل دولت او خپل هېواد جوړوو.

# پلان شوې جگړه او بې پلانه سوله

▶ لیکنه: عبدالوحید وحید

له بده مرغه په افغانستان کې سیاست د پوخوالي او کره توب هغې کچې ته نه دی رسیدلی، چې له نړیوالو معیارونو سره پرتله شي. دلته عموماً د سیاسي بریاوو لپاره د عامه خلکو د کمزوري کولو اصل کارول کېږي. دروغ ویل، چل، فریب، دوکه، هوایي ژمنې کول، د خپلې سپېڅلتیا د تبلیغاتو لپاره د ړندو مقلدینو پیدا کول، د عامه ولس د باور تر لاسه کولو لپاره عبادت کول، مذهبي ځایونو ته تلل، له ولس سره د الفاظو په کچه ځان خواخوږی گڼل، د قوم، سمت، ډلې او ژبې د حق غوښتنې لپاره د مبارزې چیغه اوچتول، د زنده باد ویلو لپاره د گوسفندي خلکو پیدا کول، له خلکو سره د خبرو پر مهال د خاورې هیواد او د ملي گټو لپاره د قرباني ورکولو دروغجنې چیغې وهل د سیاست د بریا ضمانت گڼل کېږي. زمونږ د سیاست لوبغاړي پوهیږي چې په دغه هېواد کې د دین، هیواد، سولې، قوم او ژبې د چوپړتیاوو سوژې د سیاسي بریا ضمانت دی.
هر سیاستوال چې کومه سوژه ځان ته د خلکو د غولولو او د خپلو جیبونو ډکولو لپاره گټوره وگڼله، کاروي یې او کله چې فرصتونه بدلیږي نو سوژه بدلوي، خو که فرصت بالکل ختمیږي، نو زمونږ سیاستوال خپل متبوع هیواد ته او یا هم دوبۍ، تهران، کولاب او اسلام اباد ته مخه کوي او ولس پرېږدي.
زه د مقدساتو او ارزښتونو په نوم جگړه د سقوط د سناریو بریاوې، ویاړونه، یا هم عیب او بدنامي د وژل شویو انسانانو، د بورو میندو، کونډو مېرمنو، یتیمو بچیانو او در په دره تورسرو کونډو هویت ته په کتو، د رواني مجهولې او مبهمې جگړې د توجیه نیمگړي منطق او د افغانانو له تویې شوې وینې سره په ترازو کې اچوم، بیا پوهیږم چې گټه چا وکړه او زیان چا ولید. هدیرې له چا ډکې شوې او د یتیمانو لښکر چاته پاتې شو. بیا پرېکړه کوم چې دغه جگړې د ویاړ ارزښت درلود او که د ماتم کولو وړ وه؟ باور لرم چې دغه جگړه داسې ډیزاین شوې ده چې تلفات زیات، د افغانانو خپلمنځي دښمني لا پیاوړې او د سولې مخه یو ځل بیا تر یوه نامعلوم وخت پورې ډب شي.
په جگړه کې له ولسمشر څخه نیولې تر والي پورې د هیڅ مشر زوی گډون نه لري. د هیڅ مشر کورنۍ د جگړې په لیکو کې د خپل فامیل د وژل شوي غړي جسد نندارہ نه کړ. په جگړه کې زمونږ د عام ولس د بچیانو وینه تویېږي. خویندې کونډې کیږي، میندې بورې کیږي، د پلرونو د ملا تیر ماتیږي، خورکۍ ته د اختر کالیو راوړلو پسې د تللیو وروڼو جسدونه راوړل کېږي، افغان ماشومان یتیمان کیږي او بالاخره د هیواد راتلونکی مو تیاره کیږي. اوس خو اصفهان او ډیلی هم نه فتحه کوو چې دومره په هسکه غاړه یې کیسې وکړو او یا هم ورباندې وویاړو. خپلې ولسوالۍ نن له یوه لاس څخه بل لاس ته تلل یو عیب او سبا له فاتح څخه مفتوح ته راگرځېدل یې بل عیب دی.
د جگړې د خاتمې لپاره د خپلو ټولو وړتیاوو کارولو ته اړتیا ده. د یوه هېواد وگړي، د یوه رب منونکي، د یوه اسماني کتاب پلویان، د یوه پیغمبر امتیان او د یوه ملت افراد په خپل منځکې سره وژنې نو افتخار په څه؟ عسکر او که طالب مو ووژل، نو د افغانې مورکۍ د زړگي ټوټه مو ورڅخه واخیسته. که له ځان څخه د دفاع حق ومنم، نو بیا هم د تأسف خبره ده چې د ورور وژلو ته بل ورور ولې مجبور شو ؟
څو لسیزې وشوې چې زمونږ له هیواد څخه د سیستمونو د ازمویلو لابراتوار جوړ شوی دی. هر بخت ازمویونکي افغانستان ته زمونږ له عقایدو او دودونو سره په ټکر کې پردي افکار له ځان سره راوړل. چا د بورژوازي دیکتاتورۍ پر وړاندې د مبارزې په موخه په پرولتاریا دیکتاتورۍ خبرې کولې، خو له دواړو دیکتاتوریو سره یې یو ځای سر وخوړ، چا اسلامي نظام ته د نفاذ شعارونه ورکول، خو وروسته معلوم شول چې د واک حرص ورباندې غلبه کړې وه. چا د دین په نوم د دودونو په ښاري ټولنه کې د تطبیق هڅه وکړه، خو نه د ښار شو نه د کلي او چا هم د پاپولیستي دیموکراسۍ په نوم له زر، زور، توپونو او د الوتکو له غورځبا سره گډه ناپرېته نسخه زمونږ په لابراتوار کې له ازموینو لاندې ونیوه، خو داسې کړنې یې وکړې چې اوس د دیموکراسۍ مخکښان هم ورباندې شرمیږي. مونږ په خپلو دودیزو عقایدو ولاړه ټولنه یو. بدلون یوازې د ژورې اړتیا او یا هم د سپېڅلي ټريبیون له ادرس څخه منو .
غیرمتزلزل باور لرو چې غني د یو متعهد ملي او ولسواک مشر په توگه نه کار کوي او نه یې هم وړتیا لري. د ښې حکومتولۍ، پیاوړي کاري ټیم جوړولو کې سترې نیمگړتیاوې لري، د لوېدیځوالو د حمایت تر لاسه کولو لپاره یې داسې عجیب او غریب کارونه وکړل، چې نه یوازې خپل ملت یې له حکومت څخه بېزاره کړ، بلکې د غرب حمایت یې هم تر لاسه نکړای شو. نوموړي د واک لپاره هر ډول معاملې وکړې. فساد سیستماتیکه بڼه خپله کړه، خو مونږ بیا هم له نسکور او پاشلي حکومت څخه د غني فاسد حکومت په مراتبو ښه گڼو. البته دا به له عیني واقعیتونو سره ټکر وي چې د ولسمشر غني تېرو تخلفاتو او تخطیو ته له کتو وروسته هم فکر وکړو، چې په زعامت کې له بدلون پرته به زمونږ ستونزه حل شي. اوس خو لا داسې ښکاري چې غني په خورا تیزۍ سره وخت له لاسه ورکوي. د اوس لپاره خو طالبان فکر کوي چې د سقوط تسلسل او له امریکا سره هوکړه واک ته د هغوی د رسېدو پیل دی. غني بېچاره د سړیو له کمبود سره مخ دی. د واک د غځولو په ویروسي رنځ اخته دی. له ستونزمن حالت سره له مخکې کیدو وروسته فکر کوي او بیا احساساتي گام پورته کوي. خپله جگړه یې د واشنگټن دفاع بلله، خلیلزاد یې ستایه، خو اوس پوه شو چې هر څه خوب او خیال وو.
څومره به ښه وای چې طالبانو د بهرنیو ځواکونو د وتلو له هوکړې وروسته له افغانانو سره د خپلو ستونزو د هوارولو ژمنو او افغان حکومت د بین الافغاني مذاکراتو په ترڅ کې سولې ته رسیدل خپل مسوولیت گڼلای وای. دواړو خواوو په قطر کې د وخت تیرولو، نانډریو وهلو، د یو بل په پړه گڼلو، د یو بل پر وړاندې د سپکو الفاظو او اصطلاحاتو کارولو پر ځای د دوحې مذاکراتي ټیمونو ته د A پلان، B پلان او C پلان په توگه د جگړې د ختمولو لپاره ځانگړي، په ملي گټو ولاړ، متمایل، د عمل وړ او په مشخصو غوښتنو راڅرخول شوي مختلف وړاندیزونه کړي وای. له بده مرغه چې تر اوسه د دواړو خواوو له لوري داسې طرحه نه ده وړاندې شوې چې په ځمکنیو حقایقو ولاړه او د توجیه وړ وي.
د پوستو او ولسوالیو له مسلسل سقوط او د سترو ښارونو له نسبتاً خوندي حالت څخه داسې ښکاري چې د جگړې لپاره بشپړ پلان او د اړوندو اړخونو تر منځ همغږي هم شته؛ خو سولې ته ظاهراً هیڅ پلان او پروگرام نه تر سترگو کیږي. که اوسنی کړکیچن، امنیتي او سیاسي بد وضعیت دوام کوي او دواړه اړخونه په ملي او بین المللي کچه له فشار لاندې رانشي، نو په نابره توگه او یا د کوم مرموز پلان له مخې د نظام د چورلټ سقوط وړاندوینه به دروغ نه وي او د دغه ډول ممکنه سقوط په تړاو د چارواکو اوسنی سیاسي سکوت به بوږنوونکې پایلې ولري.
بخت ازمویونکو ته هم وایم چې دلته څو ځله مخکې هم سقوط تجربه شوی دی، خو هیڅ فاتح په نظام جوړولو باندې نه دی بریالی شوی. مونږ د نړولو مهارت لرو، خو جوړول بیا راڅخه پاتې شي او یو بل فاتح د سقوط پړاوونه بشپړ کړي. سقوط مه لمانځئ. اوس هم وخت شته. ژور فکر وکړئ. دغه ملت اوس سولې ته اړتیا لري. که غني د واک د جنون او د قحط الرجال په ویروس اخته و او هیواد یې بحران ته ورساوه، نو له تاسو مو غوښتنه دا ده چې تاسو هغه د پخوانیو ناکامو فاتحینو تېروتنې مه تکراروئ. دغه هېواد ته د فاتح ځواک په توگه نه، د مالک په سترگه وگورئ، ستاسو خپلې او ستاسو د اسلافو سهوې او د ناکامۍ لاملونه وارزوئ. ځواک ښه دی، خو یوازې ځواک هم ستونزه نشي حل کولای.

## ملي او نړیوال بنسټونه: ملگري ملتونه دې د افغان ملکیانو پر وړاندې شوي جنایتونه وڅېړي

نړدې شلو ملي او نړیوالو بنسټونو د افغانستان د بشري حقونو د کمېسیون د هغې غوښتنې ملاتړ کړی، چې له ملگرو ملتونو څخه یې د افغان ملکیانو پر وړاندې د شویو جنایتونو د څېړلو غوښتنه کړې وه.
دغو بنسټونو ملگرو ملتونو ته په یوه لیک کې ویلي، چې د افغانستان د بشري حقونو کمېسیون غوښتنه پرځای ده او په ډېریو مواردو کې په دغه هېواد کې د ملکیانو پر وړاندې تاوتریخوالی او جنایتونه شوي دي.
د ارمان شهر بنسټ مشره او د بشري حقونو نړیوال فدراسیون نایبه گیسو جهانگیري وایي، چې دغو ټولو سازمانونو د افغانستان د بشري حقونو له کمېسیونه خپل ملاتړ اعلان کړی او لازمه ده چې ملگري ملتونه دې په افغانستان کې د ملکیانو پر وړاندې تاوتریخوالی په هر اړخېزه توگه وڅېړي.
جهانگیري زیاتوي: «د افغانستان د بشري حقونو کمېسیون چې د حیثیت



اعادې د لړکیو د هدفي وژنو، د بشري حقونو مدافعینو، ښځو او نجونو په اړه له غبرگونه ملاتړ شوی او د ملگرو ملتونو له کمیسارۍ نه غوښتنه شوې چې حقیقت موندونکی پلاوی دې افغانستان ته واستوي.»
دغه لیک چې د ملگرو ملتونو د بشري حقونو ادارې ته استول شوی، د بشري حقونو نړیوال فدراسیون، د انتقالي عدالت ډلې، د بشر حقونو نړیوال بنسټ، د ښځو نړیوال سازمان او د بشر حقونو ۱۴ نورو بنسټونو او سازمانونو پرې لاسلیک کړی دی.
د دغه لیک په یوه برخه کې راغلي، چې د افغانستان د بشري حقونو له کمېسیونه ملاتړ کوي او ویلي یې دي چې د ملگرو ملتونو سازمان اقدام کولای شي په دغه هېواد کې د ملکیانو پر وړاندې د خونړیو بریدونو مخه ونیسي.
دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د ملگرو ملتونو له سرمنشي انتونیو گوترېش غوښتنه کړې وه چې افغانستان ته د دغه سازمان د څېړونکو یوه ډله د ملکیانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پېښو په اړه د حقیقت موندلو لپاره واستوي.
د دغه کمېسیون مرستیال محمد نعیم نظري وایي چې دغه څېړنې به وکولای شي په افغانستان کې د بشري جنایتونو د عاملانو په اړه په کافي اندازه اسناد راټول کړي.
د هغه په خبره: «نوي پیدا شوي ماشومان، ښځې، میندوارې ښځې، مذهبي ځایونه، پوهنتونونه، ښوونځي او په واټونو کې پر خلکو باندې بریدونه شوي، دا ټول په درنو جرمونو کې حسابېږي او اړتیا ده چې د ملگروملتونو سازمان دغو پېښو ته رسېدنه وکړي.»

# د افغانستان وضعیت پر کومه روان دی؟

لیکنه: احمد مدثر

په افغانستان کې د امریکا له شل کلن حضور وروسته نن ورځ افغانستان په ستره ناامنۍ کې ښکېل دی. امریکایان ځانونه بریالي ګڼي، دوی وايي چې له القاعدې او تروریزم سره مبارزه وشوه او بریا مو تر لاسه کړه؛ خو واقعیت دا دی چې افغانستان پر القاعده سربېره نن نړدې کوم د شلو تروریستي شبکو کوربه دی. په لسګونه زره افغانان ووژل شول، له مخدره موادو سره مبارزه ونه شوه او متوازن انکشاف خو هېڅ تر سترګو نه شو. د بهرنیو په همکارۍ نه یوه سیاسي اجماع رامنځته شوه او نه هم بنسټیزې چارې تر سره شوې.

بهرنیو ځواکونو په ۲۰۱۴ کال کې وتل پیل کړل او اوس یې ژمنه کړې چې د روان کال د سپټمبر تر یوولسمې دا بهیر بشپړوي.

دا په داسې حال کې بشپړېږي چې افغانستان له سختو ننګونو سره مخ دی. بهرنۍ لاسوهنې نه کنټرولېږي او متحد ایالات پر خپل تعهد نه ودرېږي.

په تېره دا یوه میاشت کې طالبانو د جګړې له رسمي اعلان پرته ډېرې ولسوالۍ نیولې او د حکومت لخوا هم اکثریت له مقاومت پرته ورتسلیم شوې دي.

دا جګړه یوه تحمیلي او نیابتي جګړه ده چې تحمیل یې دا دی، چې د افغانستان برخلیک پرې نه دی تړلی؛ بلکې ګټه یې یو ځل بیا لوبغاړو ته ورځي.

نیابتي په دې ده چې طالبان د پاکستان د پوځ په استازیتوب افغان پوځ کمزوری او که یې وس ورسي منحل کوي یې.

اوس داسې ویل کېږي چې امریکا خپله ماته نه مني او د دې تحقق په موخه او همدارنګه دلته د دوی کوم حضور چې د سیمې د لوبغاړو په خاطر و، دا به وي چې دوی به نږدې ټول جنوب له ښارونو پرته طالبانو ته وروسپاري او طالبان به هڅه کوي چې په ټول افغانستان حاکم شي؛ خو دوی به په شمال کې مبارزه کوي، افغان حکومت او ملېشې به ورسره جګړه کوي او د وخت په تېرېدو به په شمال کې داعش پیاوړی شي او د طالبانو مبارزه به نوره هم وننګوي.

افغان حکومت به ډېر کمزوری شي، یوازې به کابل او د لویو ښارونو په مرکزونو لړزانده تسلط ولري. کمزوری حکومت به په شمال کې د امریکا نظامي ملاتړ ته اړتیا ومومي او روسیه به هم د داعش د مهارولو په موخه لېوالتیا وښيي او شاید روسیه سربخود او په شمال کې د داعش مرکزونه په نښه کړي.

حدس وهل کېږي چې کندوز به د داعشیانو لپاره یو مهم مرکز وي او ممکن جګړې ته د بلک واټر پښه هم داخله شي.

د بلک واټر مشر ډېر مخکې ټرمپ ته دا اندېښنه ښودلې وه چې که ووځی، نو ممکن د امریکا په سفارت په کابل کې د داعش یا امارت بیرغ راځوړند ووینی.

دا غمیزه به نږدې شپږ تر لس کاله وخت ونیسي. د دې هدف به دا وي چې لومړی نړۍ ته دا ثابته کړي چې دا جګړه امریکا ګټلې، افغانانو امریکا نه ده ماته کړې، که طالبانو ماته کړې وی؛ خو په ټول افغانستان به حاکم شوي وی، نو دا کله د منلو ده چې امریکا داسې یو څوک ماته کړي چې یو کمزوری دولت نشي نیولی او طالبان به له ملېشو وروسته ډېره اوږده جګړه له داعش سره ولري او ماتې به یې ناممکنه وي.

افغان حکومت ته پکار ده چې رښتیني متحدین ومومي، له کورنیو اړخونو سره د تفاهم ژبه وکاروي او له توطیو پرده پورته کړي.

# چین: امریکا باید له افغانستانه تر وتلو وروسته دغه هېواد یوازې پرېنږدي



له افغانستانه د امریکایي او نړیوالو ځواکونو د وتلو چټک بهیر په کور دننه او نړیواله کچه غبرګونونه راپارولي دي. د چین د بهرنیو چارو وزیر وانګ یې د افغانستان اوسني وضعیت ته په اشارې ویلي، چې په اوسمهال کې تر ټولو مهمه او بېړنۍ دنده دا ده چې د دغه هېواد سوله او ثبات وساتل شي او د تاوتریخوالي مخه ونیول شي.

وانګ یي چې په بیجینګ کې یې د نړیوالې سولې د نهمې دورې فورم پرانیستونکو مراسمو ته وینا کوله، وویل چې امریکا تر اوسه د افغانستان په مسئله کې یوازې پاروونکی رول لوبولی دی. هغه ویلي چې امریکا باید خپل مسوولیت درک کړي، څو د دغه هېواد وضعیت ثابت وساتل شي.

نوموړي د خپلو خبرو پر دوام ویلي، امریکا باید خپل مسوولیت د نورو پر اوږو بار نه کړي او له افغانستانه د خپلو ځواکونو له ایستلو وروسته دغه هېواد یوازې پرې نه ږدي.

له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو په تړاو د چین څرګندونې داسې مهال دي، چې په دغه هېواد کې جګړې او نښتې شدیدې شوي او هره ورځ پراخې سیمې د طالبانو لاس ته لوېږي، خو د سولې خبرې لا هم په ټپه ولاړې دي.

بلخوا د برېټانیا پخوانی لوی درستیز لارډ ډېوېډ ریچارډز، چې له ۲۰۰٦ څخه تر ۲۰۰۷ز کال پورې یې په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو مشري هم کړې، له بي بي سي سره په خبرو کې له افغانستانه د نړیوالو ځواکونو وتل یوه جدي تېروتنه بللې ده. نوموړي اندېښنه ښودلې چې له افغانستانه د نړیوالو ځواکونو له وتلو سره به په دغه هېواد کې یو ځل بیا کورنۍ جګړه پیل شي. د هغه په خبره:

«فکر کوم چې دا د لوېدیځ د لویې تګلارې لپاره خواشینوونکې شېبه ده، موږ خپل سالم قضاوت له لاسه ورکړی، هغه هېواد چې موږ ورسره لویې ژمنې کړې وې، فکر کوم چې له بده مرغه اوس تقریباً له کورنۍ جګړې سره مخ دی، دا احتمال هم شته چې طالبان به یو ځل بیا هغه ځای بېرته خپل کړي چې په ۲۰۰۱ز کال کې یې درلود، د هېواد لوی ښارونه او ډېرې سیمې به ونیسي ».

ریچارډز دغه څرګندونې داسې مهال کوي، چې امریکایي ځواکونو د بګرام پوځي اډه هم افغان حکومت ته وسپارله او په پام کې ده چې د راتلونکې سپټمبر میاشتې تر ۱۱مې به ټول نړیوال ځواکونه له افغانستانه ووځي.

# د بګرام هوايي اډې له تخلیې وروسته؛

## وال سټریټ ژورنال: امریکا له افغانستانه د خپلو ډیپلوماټانو پر اضطراري ایستلو کار کوي



وروسته له هغه چې امریکا وړمه ورځ په افغانستان کې د خپل نږدې شل کلن ماموریت تر ټولو ستره پوځي مرکز (بګرام هوايي اډه) افغان ځواکونو ته وسپارله، وال سټریټ ژورنال ورځپاڼې راپور ورکړی چې د امریکا حکومت له افغانستان څخه د خپلو ډیپلوماټانو او د سفارت د نورو مامورینو د ضطراري ایستلو پر پلان کار پیل کړی دی.

راپور کاږي، چې په دې وروستیو کې د افغانستان خراب امنیتي وضعیت امریکایي چارواکي هم اندېښمن کړي او هغوی غواړي چې د خپلو ډیپلوماټانو د اضطراري وتلو لپاره پلان جوړ کړي تر څو د وضعیت د لا بې ثباته کېدو په صورت کې خپل وګړي هر څه ژر له دغه هېواده وباسي. امریکا دا پرېکړه وروسته تر هغه کوي چې طالبانو د سیمه ییزو او نړیوالو هېوادونو د غوښتنې پر خلاف خپلو بریدونو ته زور ورکړی دی او ګڼې ولسوالۍ یې نیولې دي. وروسته له هغې چې د امریکا ولسمشر جو بایډن له افغانستانه د خپلو ټولو ځواکونو د ایستلو پرېکړه تایید کړه، له دغه هېواده د امریکایي ځواکونو د وتلو لړۍ په چټکۍ سره روانه ده. تازه امریکایي ځواکونو بګرام هوايي اډه چې په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو د شل کلن ماموریت تر ټولو ستره پوځي اډه بلل کېده، افغان ځواکونو ته سپارلې ده. افغان حکومت هم تایید کړې چې د دې اډې مسوولیت دوی ته سپارل شوی او له دې وروسته به افغان ځواکونه له دې اډې څخه د دوی په وینا، د ترهګرۍ ضد مبارزې لپاره ګټه اخلي. په ورته مهال طالبانو هم له دې اډې څخه د امریکایي ځواکونو د وتلو هرکلی کړی له ټولو بهرنیو هېوادونو یې غوښتي چې له افغانستانه خپل ټول پوځیان وباسي. له دې سره جوخت، د امریکا ولسمشر جو بایډن ویلي چې افغانان باید په خپله د خپلو هوايي ځواکونو پر مټ امنیتي چارې سمبالې کړي. بایډن دغه راز ویلي، ډاډه دی چې افغان مشران به وکولی شي چې خپل حکومت وساتي، خو نوموړی وايي اندېښنه یې دا ده چې دوی به له کورنیو ستونزو سره مخ وي او دوی باید وکولای شي د خپل حکومت د دوام لپاره د هېواد په کچه هغه ملاتړ خپل کړي، چې ورته اړتیا لري. بایډن دغه راز ویلي چې له افغانستانه د ټولو امریکایي ځواکونو د وتلو بهیر به په څو راتلونکو ورځو کې چې په دې وروستیو کې یې اوازې خپرې شوې، بشپړ نه شي.بلخوا روسیې له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو وتلو ته په اشارې ویلي چې امریکا نه شي کولی له دغه هېواد څخه تر وتلو وروسته خپل سرتېري په منځنۍ اسیا کې ځای پر ځای کړي. د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف په خپله تازه مرکه کې ویلي، چې دوی په دې اړه مخکې له مخکې ځینې مسایل له واشنګټن سره شریک کړي او دوی هیله لري چې امریکا ورباندې غور وکړي. هغه دغه راز ویلي، افغان حکومت او طالبانو تر اوسه پورې خپلمنځي مسائل نه دي حل کړي، دوی به له نړیوالې ټولنې سره یو ځای په دې برخه کې خپلو همکاریو ته دوام ورکړي خو په خبره یې، د افغانستان د راتلونکې نظام په اړه پرېکړه د افغانانو خپل کار دی.

## د کتــاب خبــرې

# انسان د مانا په لټون

لیکوال: **ویکټور فرېنکل**
ژباړن: **میراحمدیـاد**




## د بېګار د کمپ (زندان) تجربې

د ګوتې د اشارې په کیسه یې په همغه شپه پوه کړم. دا د ژوند او مرګ لومړنۍ ټاکنه وه. زموږ د موټر ډېره برخه، نږدې ۹۰ سلنه خلکو ته د مرګ ګوته وخوځېده او دا پرېکړه په څو راتلونکو ساعتونو کې عملي شوه. چپ اړخ ته تللي خلک د اورګاډي له تمځایه مستقیماً د انسان سېځلو تنورونو ته واستول شول. د همدې تنورونو یوه کارکوونکي راته وویل، د تنورخانې پر دروازه یې په څو اروپايي ژبو «لمبل» کلیمه لیکلې ده. هر بندي چې ورننوځي، لومړی ورته یو صابون ورکول کېږي او وروسته چې څه کېږي، هغو کیسو کولو ته دلته اړتیا نه شته. دا کیسې ډېرو خلکو لیکلې دي.
زموږ له ډلې یو څو تنه ژوندي پاتې وو او په همدې شپه پر دغه حقیقت پوه شوو. دلته مې له پخوانیو بندیانو پوښتنه وکړه چې زموږ نور ملګري یې چېرته ولېږل؟
هغوی راته وویل:
-چپ لاس ته یې ولېږل؟
ما ورته وویل:
-هو
راته وې ویل:
-نو هلته یې ګوره.
ما ورته وویل:
-چېرته؟
څو سوه متره لرې یوه نل ته یې اشاره وکړه چې توره لړه ترې د پولنډ (لهستان) خړ اسمان ته پورته کېده او په وربځو کې ورکېده. راته وې ویل:
-ستا ملګري هغه دي، جنت ته الوځي روان دي.
زه بیا هم پر دې خبره پوه نه شوم، اخر یې راته سپینه خبره وکړه.
ښه له ما نه کیسه ګډوډه شوه. موږ چې سهار مهال دې کمپ ته راوستل شوو، له هغه وخته د شپې تر پرېوتو پورې راته د ارواپوهنې له اړخه لا ډېر اوږد مزل پروت و.
د SS پوځونه راسره راروان وو. ډک ټوپکونه ورسره وو او موږ یې د اورګاډي له تمځایه روان کړو. له برېښنايي اغزن سیم نه یې واړولو او پنډغالي (کمپ) ته یې ننویستو. لومړی یې د پاکوالي (لمبلو) برخې ته بوتلو. څوک چې له لومړۍ ټاکنې بریالي راوتي وو، د هغوی دا رښتیني لمبا وه. په دې وخت کې بیا د خلاصون یو وهم (تمه یا تصور) راسره پیدا شو. د SS پوځیان راته ښه ښکارېدل. دستي یې پر لامل پوه شوو. دوی یوازې تر هغې راسره ښه وو چې زموږ پر مړوندونو یې ساعتونه ولیدل او خوله یې خوږه کړه چې رانه یې واخلي. نو ښه نه وه چې موږ ورته پخپله ورکړي وای او هغو ښایسته افسرانو باید ولې ساعتونه نه درلودای؟ ښايي یوه ورځ یې همدا نېکي ببرته راستنه کړې وای.
موږ په یوه هنګر کې کېنول شو. داسې ښکارېده لکه مکروب ضد خونه چې وي. په دې وخت کې د SS کسان راغلل او زموږ مخې ته یې هغه کمپلې خپرې کړې چې خپل ساعتونه او نور شیان مو باید پرې ایښي وای. په موږ کې لا داسې ساده ګان هم وو، دا وخت به یې هم د SS کسانو ته ویل چې دا د کوژدې څلی، نښان یا یو بل بختور شی له ځان سره ساتلای شم؟ هېڅوک لا هم پر دې حقیقت نه پوهېدل چې هر څه به رانه اخیستل کېږي.
په زړه کې مې ویل راځه د یوه پخواني بندي باور راخپل کړه. ورنږدې شوم. د خپلې کورتۍ جېب ته مې اشاره وکړه. یو تاو شوی کاغذ مې ورته وښود، ومې ویل: «دا زما د یوه علمي کتاب مسوده ده. زه پوهېږم چې ته به څه وایې. له دې ځایه چې ژوندی وځم، دا به لوی غنیمت وي او که تمه وي، نو یوازې همدا باید ولرم؛ خو زه پر دې شیانو فکر نه شم کولای. هر څنګه چې وي، دغه لیکنې باید له ځان سره وساتم، ځکه ډېر عمر خواري مې پرې کړې ده. سر دې خلاصېږي که نه؟»
**دوام لري...**

# علامه د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي




علامه د لوړو زده کړو موسسه چې په کابل ښار کې موقعیت لري، په ۱۳۹۳ کال کې یې پر فعالیت پیل وکړ. د علامه د لوړو زده کړو موسسې د اقتصاد پوهنځي رییس او استاد ښاغلي سید محمد علوي وویل، دوی له پیله تر دې دمه دوه پوهنځي، اقتصاد او کمپیوټر ساینس لري. د نوموړي په وینا، له فعالیته څه موده وروسته یې د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي د جواز اخیستلو چارې هم تقریباً بشپړې کړې وې، چې د ولسمشر د فرمان پر بنسټ خصوصي پوهنتونونو ته د نوو پوهنځیو د جواز د نه صادرولو پر اساس یې چارې وځنډېدې.
ښاغلي علوي همدا راز وویل، دوی اوسمهال د دوو پوهنځیو او څلورو ډیپارټمنټونو په چوکاټ کې خپلې تدریسي چارې پر مخ وړي، چې اقتصاد پوهنځی یې دوه ډیپارټمنټونه مالي او اداري او تشبیثات ډیپارټمنټ لري او کمپیوټر ساینس پوهنځی یې هم د شبکې او ډېټابېس ډیپارټمنټونه لري.
د ښاغلي علوي په وینا، دا چې دوی په دوو درسي ټایمونو کې محصلین د لوړو زده کړو لپاره ورغواړي او په ټولګیو کې یې هم د نارینه او ښځینه محصلینو شمېر توپیر کوي، نو ویلای شو چې په ټوله کې شاوخوا ۱۰۰۰ محصلین لري چې زیاته برخه یې ښځینه محصلینې تشکیلوي.
ښاغلي سید محمد علوي همدا راز زیاته کړه، دوی تر دې دمه په دریو دورو کې محصلین فارغ کړي او تمه ده چې خپله څلورمه دوره محصلین هم په نږدې وختونو کې فارغ او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي.
نوموړی وایي، دا چې د هېوادوالو اقتصادي وضعیت ورځ تر بلې خرابېږي، ځوانان د لوړو زده کړو د تر لاسه کولو لپاره د لوړو فیسونو د ورکړې توان نه لري او فارغ شوي محصلین یې د دندو پیدا کولو په برخه کې ډېر کله له ستونزو سره مخ کېږي، نو د علامه د لوړو زده کړو موسسې د نوو جذب کېدونکو محصلینو کچه هم د نورو خصوصي پوهنتونونو او موسسو په شان د هر کال په تېرېدو سره کمرنګه کېږي او همدا لامل دی چې هر کال د تېر په پرتله کم شمېر نوي محصلین جذبوي او د لوړو زده کړو اسانتیاوې ورته برابروي.
د علامه د لوړو زده کړو موسسې د اقتصاد پوهنځي رییس ښاغلي سید حبیب علوي زیاته کړه، دوی له پیله تر دې دمه خپلو محصلینو ته په مختلفه کچه تخفیف ورکړی دی. د هغه په خبره، له ۳۰ تر ۴۰ سلنې پورې تخفیف یې په خپل سمیستروار فیس کې تل خپلو محصلینو ته په پام کې نیولی او پر دې سربېره هغو محصلینو ته چې له مالي او اقتصادي ستونزو سره مخ دي، هغه محصلین چې د شهیدانو او معلولینو له کورنیو څخه دي، یتیمان دي او ورته نور چې ډېرو ته یې په وړیا توګه د لوړو زده کړو امکانات برابر کړي او ډېرو ته یې تر ۵۰ سلنې پورې تخفیف ورکړی او کم تخفیف یې له ۲۰ څخه تر ۳۰ سلنې پورې دی. د نوموړي په وینا، د دې هر څه تر څنګ هغو محصلینو ته هم تخفیف ورکوي چې اوس اوس له ښوونځیو څخه فارغېږي او د علامه د لوړو زده کړو په موسسه کې نوملیکنه کوي.
ښاغلي علوي زیاته کړه، دوی د ورځې په دوو درسي ټایمونو کې خپل محصلین د لوړو زده کړو لپاره راغواړي چې یوه یې سهارنۍ دوره ده چې له اتو بجو څخه پیل او تر لس نیمو بجو پورې دوام کوي او بله یې ماښامنۍ دوره ده چې د ماذیګر په څلورنیمو بجو پیل او د ماخوستن تر اوو بجو پورې دوام لري او محصلین پکې خپلو زده کړو ته حاضرېږي.
د ښاغلي سید حبیب علوي په وینا، دوی د خپلو محصلینو لپاره فعال او مجهز کتابتون لري چې ډېر تخصصي او د تحصیلي رشتو اړوند کتابونه پکې دي او محصلین کولای شي وخت ناوخت مراجعه ورته وکړي، مطالعه پکې وکړي او خپل د اړتیا وړ مالومات ترې تر لاسه کړي.
ښاغلي علوي همدا راز وویل، دوی په هېواد کې د ننه او له هېواده د باندې له ځینو پوهنتونونو او علمي مرکزونو سره نېکې اکاډمیکې اړیکې لري، چې له هغې ډلې د چین او امریکا هېوادونو له ځینو معتبرو پوهنتونو سره متقابلې علمي اړیکې یادولی شي، چې پر بنسټ یې وخت نا وخت په متقابل ډول یو له بل سره علمي تجربې او لاسته راوړنې شریکوي.
ښاغلي علوي زیاته کړه، دوی تر دې دمه خپلو ټولو فارغ شوو محصلینو ته په لوړو زده کړو وزارت کې ثبت او راجستر شوي اسناد ورکړي دي څو یې له حقوقو او امتیازاتو څخه ګټه واخلي.
د علامه د لوړو زده کړو موسسې یاد مسوول وویل، دوی د خپلو محصلینو د علمي سویې د لا بډاینې په موخه ډېر علمي سمینارونه، ورکشاپونه او پروګرامونه پیل کړي. مجهز کتابتون، مجرب استادان او ډېر نور امکانات هغه څه دي چې د محصلینو د علمي سوېې د پرمختګ په برخه کې ترې یاده موسسه کار اخلي. د نوموړي په وینا، پر دې هر څه سربېره دوی د علامه د لوړو زده کړو په موسسه کې تر ۱۴ پورې بهرنۍ ژبې هم تدریسوي، څو محصلین ترې د خپلې علمي پانګې د لا بډاینې لپاره کار واخلي.
ښاغلی سید حبیب علوي وایي، دوی د موسسې د لا ښه والي او پرمختګ لپاره ځینې پلانونه لري چې له هغې ډلې کولای شو د محصلینو او استادانو لپاره د لا غوره خدمتونو وړاندې کولو، له ټکنالوژۍ څخه لا ډېرې ګټې اخیستنې، د تحصیلي نصاب پراختیا او معیاري کولو، د سمینارونو، ورکشاپونو او علمي پروګرامونو لپاره د یوه لوی او مجهز تالار جوړولو، د عصري او پرمختللي کمپیوټرلب جوړولو او پرمختللي الکترونیکي کتابتون ته چې زرګونه جلده کتابونه به له ځان سره ولري، اشاره وکړو.
د علامه د لوړو زده کړو موسسې د اقتصاد پوهنځي رییس او استاد ښاغلی سید حبیب علوي زیاتوي، که څه هم په هېواد کې فقر، د امنیت نشتون او اقتصادي وضعیت ورځ تر بلې د ډېرېدو او خرابېدو په حال کې دی، بیا هم د لوړو زده کړو وزارت خپلې چارې په منظمه توګه پر مخ وړي، خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو ته منظم پلان او درسي نصاب جوړوي او ښوونیوزو بنسټونو ته پوره پاملرنه لري، خو نوموړي وویل چې د دې هر څه تر څنګ له لوړو زده کړو وزارت څخه ځینې غوښتنې لکه، له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي څو د لوړو زده کړو د خصوصي موسسو او پوهنتونونو د ظرفیت د ارتقا په برخه کې لا ډېره پاملرنه وکړي، د نوو پوهنځیو د جواز اخیستلو لپاره د لوړو زده کړو وزارت لخوا وضع شوي تضمینونه ډېر لوړ دي چې باید پاملرنه ورته وشي، پوهنتون ته د موسسو د ارتقا په برخه کې له هغوی سره مرسته وکړي او همدارنګه له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي څو د علمي څېړنو په برخه کې له خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو له موسسو سره همغږي ولري او پاملرنه ورته وکړي. هغه وایي، په مساوي ډول د لوړو زده کړو د خصوصي موسسو تر منځ د تحصیلي بورسونو وېش ته باید د لوړو زده کړو وزارت لا ډېره پاملرنه وکړي او استادانو ته یې له هېواده د باندې په علمي سمینارونو، ورکشاپونو او علمي پروګرامونو کې د ګډون کولو فرصتونه برابر کړي څو یې علمي سویه او پانګه لا بډایه شي او په پرمختګ کې ورسره مرسته وکړي.

اقتصاد

## د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۱ |
| € | ۹٤,٦۰ |
| Rp. | ۵۰۰ |
| ₹ | ۱۰۸۰ |
| ¥ | ۱۱,۷۰ |
| £ | ۱۰۸,۷۰ |

## بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# هغه درسونه چې یوازې شتمن کسان يې اولادونو ته ور زده کوي

ژباړه: صفي الله پادشاه

موږ او تاسو ډېر کله د شتمنو خلکو د اولادونو په هکله خبرې کوو او وينو يې چې له خپلو پلرونو څخه ورپاتې پيسو او شتمنۍ د هغوی ژوند ارامه او سوکاله کړی دی؛ خو دا چې هغوی له ښه چانس او بخت څخه برخمن دي او له مادي اړخه په شتمنو کورنيو کې نړۍ ته راغلي، يو حقيقت دی او سترگې نشو پرې پټولای.

خو هغه څه چې د دغه ډول کسانو په هکله مهم دي، هغه درسونه دي چې له خپلو شتمنو پلرونو څخه يې زده کړي دي. دا چې هغوی په دا ډول کورنيو کې زيږېدلي او را لوی شوي دي، دا د هغوی خپل بخت او چانس دی، خو د پلرونو په هکله يې موضوع توپير کوي. د هغوی پلرونه اړ وو څو خپله لاس پکار شي، خپل ژوند پر پښو ودروي او له همدې امله اړ شول څو د پيسو گټلو، شتمنېدو او د شتمنۍ زياتولو پر لارو چارو ځان پوه کړي.

په دې ډول هغوی وتوانېدل څو د ژوند په اوږدو کې د خپل ځان او کورنۍ لپاره ډېره شتمني را ټوله کړي. که چېرې دغه کسان خپله ټوله شتمني له لاسه ورکړي، کولای شي د يوې لنډې مودې په اوږدو کې هر څه بېرته لاسته راوړي. لکه هنري فورډ، هغه د پيسو لاسته راوړلو او شتمنېدو پر راز پوه شوی و. د دغې ادعا دليل کولای شو د يوه خبريال پوښتنې ته د فورډ په نوم د موټر جوړولو کمپنۍ د بنسټگر، هنري فورډ له ځواب څخه تر لاسه کړو. کله چې خبريال له هنري فورډ څخه وپوښتل چې: ښاغلی فورډ! که چېرې تاسو خپله ټوله شتمني په يوه شپه کې له لاسه ورکړئ، څه کوئ؟

هنري فورډ ځواب ورکړ، باوري يم چې د خپلې اوسنۍ شتمنۍ دوه برابره به يوازې د پنځو کلونو په اوږدو کې بېرته لاسته راوړم.

د شتمنېدو دغه راز او رمز او مالي درسونه چې د فورډ په څېر شتمنو کسانو په تجربي ډول تر لاسه کړي او زده کړي دي، په مستقيم يا غير مستقيم ډول يې خپلو اولادونو ته هم لېږدوي. څرنگه چې پوهېږئ، د فورډ د موټر جوړولو شرکت ان اوس هم فعال دی او د امريکا په سطحه د موټر جوړولو يو لوی شرکت گڼل کېږي.

همدارنگه هغه شتمن اولادونه چې په هکله مو يې خبرې وکړې، که څه هم د خپل ژوند يوه ځانگړې دوره يې پر لگښت کولو تېره کړې او هغه د چا خبره د خپلو پلرونو پيسې يې گوړې او گازرې کړې دي، خو تر څنگ يې هغوی د خپلو شتمنو پلرونو د مالي درسونو او لارښوونو وارثين هم دي او له يادو درسونو څخه په خپل ژوند کې گټه اخلي.

خو که چېرې تاسو د يوې شتمنې کورنۍ اولاد هم نه ياست، پوهېږئ چې د شتمنېدو لپاره بايد کار وکړئ او نوښت رامنځته کړئ. سره له دې چې موږ ټول غواړو چې د شتمنېدو او پيسو لاسته راوړلو په خاطر بايد په يوه ځای کې پر دنده وگمارل شو، بايد په ياد ولرو چې تل هم نشو کولای د نورو لپاره کار وکړو، بالاخره بايد د خپل يوه نوي کاروبار لپاره خپله لاره پيدا کړو او پر بنسټ يې وده او پرمختگ وکړو.

که څه هم موږ د شتمنو پلرونو زامن نه يو چې بايد دغه درسونه يې موږ ته را زده کړي واى، خو موږ خپله کولای شو ياد درسونه او لارښوونې خپلو اولادونو ته ولېږدوو. خو تر دې مخکې بايد هغوی په ښه توگه زده او درک کړو. نو راځئ پوه شو چې ياد مالي درسونه څه دي:

### لومړی مالي درس: له محدودو سرچينو څخه غوره گټه اخيستنه

ډېری ماشومان ډېر کله له خپلو ميندو او پلرونو څخه غواړي څو هغوی ته د لوبو وسايل، شيريني باب او ډېر نور هغه توکي چې په يوه پلورنځي کې شته، واخلي. که چېرې ستاسو ماشومان هم په پرله‌پسې ډول له تاسو دا ډول غوښتنې لري، بايد هغوی ته د پيسو د محدودوالي مفهوم ور زده کړئ. هغوی ته ور زده کړئ چې مور او پلار بايد د پيسو لاسته راوړلو لپاره کار وکړي، څو وکولای شي چې خپل او ستاسو د اړتيا وړ توکي وپېري.

که چېرې ستاسو اوسنۍ بوديجه او پانگه اجازه درکوي، کولای شی هغوی ته ووايئ چې په يوه وخت کې بايد يوازې يو شی وپېري، له دې پرته بايد پر دې پوه شي چې د هغه توکو د پېرلو پايله، چې لگښت او پيسې يې نه لری، د خوښۍ وړ کار نه دی. هغوی ته ور زده کړئ چې په بې پروا توگه د هر څه پېرل او پيسې پر بې مانا توکو مصرفول، کولای شي د هغوی پانگه او شتمني ختمه کړي او نور به ونه شي کولای چې خپل د اړتيا وړ توکي او وسايل وپېري.

په دې توگه ماشومان کولای شي چې خپلې اړتياوې د لومړيتوبونو پر بنسټ عيارې کړي او د خپلو اړتياوو له منځه څو مهمې هغوی انتخاب کړي. ان که تاسو شتمن هم ياست او د بوديجې يا پانگې له اړخه کوم محدوديت نه لری، بيا هم بايد خپلو ماشومانو ته دغه مفهوم ور زده کړئ.

د ښارونو ډېری پخوانيو اوسېدونکو به خپل اولادونه له نورو کاروبار لرونکو ملگرو سره د کار زده کوونکو په توگه گمارل، څو په خپله وکولای شي يو عايد ولري او پر دې پوه شي، هغه پيسې چې له ځان سره يې لري، يوه محدوده سرچينه ده او بايد غوره گټه ترې واخلي.

يوه غوره نظريه دا ده چې خپل ماشوم مو د خوراکي توکو نږدې يوه پلورنځي يا سوپر مارکېټ ته بوځئ او يو څه پيسې ورکړئ، هغه ته اجازه ورکړئ څو په پلورنځي کې وگرځي. په دې ډول شرايطو کې باوري کېږي چې د خپلې اړتيا وړ توکو د اخيستلو لپاره کافي اندازه پيسې لري. هغه بايد پر دې پوه شي چې څه څه ته اړتيا لري او څه ډول کولای شي چې د خپلو اړتيا وړ توکو او وسايلو د اخيستلو لپاره بوديجه په مناسبه توگه مديريت کړي.

### دويم مالي درس: بايد پوه شئ چې څه ډول شی وپېرئ

ماشومان تل غواړي هغه راښکونکي او په زړه پورې توکي چې په يوه پلورنځي کې يې ويني، ويې پېري. دا کېدای شي تاسو ته يو غوره فرصت وي څو هغوی ته ور زده کړئ چې په پلورنځي کې ټول شته د اړتيا وړ توکي وڅېړي او د غير ضروري توکو پر ځای مهم او مناسب توکي انتخاب کړي.

تر ټولو غوره لاره دا ده څو هغوی ته واضح کړئ چې ولې ټول هغه څه نه ورته اخلئ چې دوی يې غواړي. په يوه پلورنځي او سوپر مارکېټ کې په گرځېدو سره، هغوی ډېر ژر متوجه کېږي چې په لويو پلورنځيو او مارکېټونو کې ډېر داسې په زړه پورې او جذاب شيان شته چې ښايي په يوه کوچني پلورنځي کې د شته وسايلو او توکو په پرتله ډېر گرانبيه وي.

يوه په زړه پورې لار هم دا ده چې کله غواړی د اړتيا وړ توکو د اخيستلو لپاره بازار ته لاړ شی، خپل ماشومان مو له ځان سره بوځئ، د اړتيا وړ توکو يو لېست چمتو کړئ او له خپل ماشوم څخه وغواړئ چې د ضروري شيانو په ليکلو کې درسره مرسته وکړي. کله چې د خريد په حال کې ياست، لېست مو ماشوم ته ورکړئ او اجازه ورکړئ څو هغه توکی چې بايد ويې پېرې، انتخاب کړي.

هغوی ته د محصولاتو د کيفيت، بيې او نورو هغو موارده په هکله چې پر پېرلو باندې اغېزه کوي، وضاحت ورکړئ. راتلونکی ځل چې کله د کور د اړتيا وړ توکي اخلی، له خپل ماشوم سره يو ځای يوه بل پلورنځي ته لاړ شئ چې د توکو بيې يې ټيټې وي.

په حقيقت کې دويم مالي درس چې شتمن خلک يې خپلو اولادونو ته ور زده کوي، دا دی چې ماشومان يې دا درک کړي چې تل غوره فرصتونه شته او بايد د خپل خريد او اړتيا وړ توکو د اخيستلو لپاره ببړه ونه کړي او د خپلو يادو اړتياوو په هکله لا ډېر فکر وکړي.

درېيم مالي درس: پر دې پوه شئ چې وخت تر پيسو ډېر ارزښت لري

که څه هم دغه موضوع ډېرو ته د ارزښت وړ نه ښکاري، خو ماشومان بايد پر دې پوه شي چې هغوی په ورځ کې څلورويشت ساعته وخت لري او د ياد وخت د مصرفولو لپاره دوې لارې لري. ايا له دغو څلورويشت ساعتونو څخه تر ټولو ډېره گټه واخلي، او يا دا چې ياد فرصت له لاسه ورکړي؟

کټ مټ لکه د اوړي رخصتۍ، چې په پوره توگه ازادي لري څو هغه کړنې چې زړه يې غواړي، تر سره کړي او يا دا چې کار پکې وکړي. د بېلگې په توگه، هغوی په خپلو رخصتيو کې د پيسو لاسته راوړلو لپاره يو کار تر سره کوي، کوم څه پلوري، مطالعه کوي او يا له خپلو همزولو سره لوبې کوي.

هغوی بايد پوه شي چې د ورځې په اوږدو کې له خپل وخت څخه د گټې اخيستو په تړاو د هغوی تصميمونه کولای شي د هغوی پر راتلونکي ژوند باندې اغېزه وکړي.

يو چيني متل دی چې وايي: د يوې ونې د کرلو لپاره تر ټولو غوره وخت، شل کاله مخکې و او بل تر ټولو غوره وخت يې همدا نن دی.

له دې هر څه سره سره، يوه د ارزښت وړ نظريه دا ده چې خپلو اولادونو ته اجازه ورکړئ څو هغه کړنې لېست کړي چې غواړي په خپلو رخصتيو کې يې تر سره کړي. تر څنگ يې کېنئ او د راتلونکي لپاره د هغوی د انتخاب کړو کړنو پر گټو او لاسته راوړنو بحث وکړئ. د دا ډول فعاليتونو له تر سره کولو څخه موخه دا ده، څو ماشوم د وخت د مديريت کولو پر مفهوم پوه شي او خپل وخت بې گټې تېر نه کړي. اجازه ورکړئ څو ستاسو په لارښوونو سره له خپلو رخصتيو خوند واخلي.


دا تر ټولو هغه غوره مالي درسونه وو چې کولای شی خپلو اولادونو ته يې ور زده کړئ او اجازه ورکړئ چې د خپل وخت يوه برخه پر لوبو کولو تېره کړي. په باوري توگه چې پاتې نور مالي درسونه به په راتلونکي کې په پوره لېوالتيا سره په خپله زده کړي.

زما پوښتنه له تاسو څخه دا ده: تر ټولو ارزښتمن درس چې له خپل پلار څخه مو زده کړی، څه و؟

پر ځواب مو فکر وکړئ، هغه متل په پام کې ونيسئ چې وايي: پلار گټلي، زوی ته اسان دي. همدا اوس لاس پکار شئ او په ژوند کې مو د کاروبار هغه لوری غوره کړئ، چې پر بنسټ يې په راتلونکي کې د سوکاله او شتمن ژوند خاوندان کېږی، نه داسې ژوند چې ان د يوې کوچنۍ اړتيا د پوره کولو لپاره هم بل چاته محتاج و اوسی.

# د کرونا زياتېدونکې گواښ؛

## د روغتيا نړيوال سازمان: نړۍ د کرونا وبا له کبله په ډېر حساس پړاو کې ده



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ويروس د اخته کسانو شمېر۱۸۳ ميليونه او ۹۹۵زره او ۳۰۰ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د ياد ويروس له کبله تر دې مهاله دری ميليونه او ۹۸۲ زره او ۸۱۴ کسان مړه شوي او له ۱٦۸ ميليونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

د يادو شمېرو له مخې، د امريکا متحده ايالتونه د دغه ويروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانيانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امريکا کې د دغه ويروس مثبتې پېښې ۳۴ميليونه او ۵۸۰زره او ۴۷۰ ته رسېدلي او ٦۲۱ زره او ۱۷۲ نور امريکايان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۳۰ميليونه او ۵۲۷ زره او ۷٦۴ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دويم، برازيل د ۱۸ ميليونه او ٦۸۷ زره او ۴٦۹ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېيم، فرانسه د پنځه ميليونه او ۷۸۰ زره او ٦۴۸ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او روسيه د پنځه ميليونه او ۵۸۵ زره او ۷۹۹ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ويروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

ترکيه، برېټانيا، ارجنټاين، کولمبيا او ايټاليا بيا په ترتيب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

له دې سره جوخت د روغتيا نړيوال سازمان وايي، چې نړۍ د کرونا وبا له کبله په ډېر حساس پړاو کې ده. د دغه سازمان مشر تېډروس ادهانم گيبريسيوس پرون په جينوا کې يوه انلاين کنفرانس ته ويلي: «ما د نړۍ له ټولو مشرانو غوښتي چې يوځای سره کار وکړي، څو دا مسئله يقيني شي چې راتلونکي کال په دې موده کې د نړۍ په هر هېواد کې اويا سلنه خلک واکسين شوي وي. دا د کرونا وبا د مخنيوي، د خلکو د ژوند ژغورنې، په واقعي بڼه د نړۍ اقتصادي رغونې ته د خوزښت تر ټولو غوره لاره ده او هم به په دې توگه د نورو خطرناکو لارو چارو مخه ونيول شي.»

د روغتيا د نړيوال سازمان د مشر په خبره، په هغو هېوادونو کې چې لږ واکسيونونه يې لگولي، په روغتونونو کې بيا د خلکو د گڼه گوڼو او ډک شويو بسترونو ويرونکې صحنې ليدل کېږي.

بلخوا د ايران ولسمشر هم خبرداری ورکړی چې هېواد يې ښايي د کرونا وبا له يوې بلې څپې سره لاس گرېوان وي. دا په داسې حال کې ده چې ايراني چارواکو ويلي، په دغه هېواد کې د کرونا ويروس هندی بڼه په چټکۍ سره خپرېږي. د دغه هېواد ولسمشر حسن روحاني چې د واک موده يې پای ته په رسېدو ده، دا څرگندونې د کرونا پر ضد د مبارزې د ادارې له چارواکو سره په کتنه کې کړې دي. هغه ويلي، دا وېره شته چې ايران د کرونا له پنځمې څپې سره لاس گرېوان وي. د ايران ولسمشر له خلکو غوښتي چې د کرونا د نوې څپې، په تېره د هندی بڼې د مخنيوي لپاره د دوبي د رخصتيو سفرونه او غونډې وځنډوي.

مسیر ورځپانه
مسوول مدير: اسدالله وحيدي
مرستيال: شفيق اميرزی
اېډېټران: جواد تيموري او امان الله حنيفي
خبريالان: حميدالله حميدي، حکمت آرين او حشمت الله نوري
ډيزاين: حسيب الرحمن ساحل
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily
چاپخونه: وايگل چاپ
0202512626 / 0782989696

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

یکشنبه د ۱۴۰۰ د چنګاښ ۱۳مه | د ۲۰۲۱ د جولای څلورمه | ۷۴۳مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۲ | ۳۸ | ٤۱ | ٤۱ | ٤۲ | ۳۲ |
| ۱۸ | ۲٥ | ۲۷ | ۳۲ | ۲٥ | ۲۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۶ | لمر ختل ۰۴:۴۱ | ماسپښین ۱۱:۵۲ | مازیګر ۰۴:۵۴ | ماښام ۰۷:۰۴ | ماخوستن ۰۸:۴۹


## نړۍ




## لېتوانیا: بېلاروس په قصدي توګه لوېديځ هېوادونو ته د کډوالو د لېږد لړۍ چټکه کړې

د لېتوانیا چارواکي وايي، د هغو پناه غوښتونکو شمېر په بې ساري توګه زيات شوی، چې په دې وروستيو کې له بېلاروس څخه د بالتيک هېوادونو پر پولو ور اوړي.
چارواکو ويلي، ښايي مېنسک قصداً دې کار ته مخه کړې وي او د ياد هېواد اوسنی مشر الکساندر لوکاشينکا په دې توګه غواړي له لوېديځ څخه د هغو بنديزونو غچ واخلي، چې پر بېلاروس يې د مخالفو سياستوالو او د ډيموکراسۍ پلوه فعالانو د ځپلو په خاطر لګولي دي.
د لېتوانيا د پولې ساتنې د چارو اداري په خپره کړې خبرپاڼه کې ويلي چې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې يې شاوخوا ۱۵۰ کسان نيولي چې هڅه يې کوله په غير قانوني توګه له بېلاروس سره پر ګډه پوله ور واوړي. د دغې اداري په وينا، دغه شمېر د هغو ټولو کسانو په نسبت چې تېر کال د دې پولې په اوږدو کې نيول شوي، نږدې دوه برابره دی. د خبرپاڼې له مخې، د روان کال د جنورۍ له مياشتې راهيسې د هغو کډوالو چې له پولې په غير قانوني توګه د تېرېدو پر مهال د لېتوانيا ځواکونو نيولي، شمېر يې ۸۲۲ کسانو ته رسېږي چې ډېری يې د عراق اتباع دي.

## راپورونه: د امریکا په فلوریدا کې د نړېدلې ودانۍ د مړو شمېر ۲۲ کسانو ته ورسېد



د راپورونو له مخې، د امريکا په فلوريډا ايالت کې د يوې لوړې ودانۍ د نسکورېدو په پېښه کې د مړو کسانو شمېر ۲۲ ته لوړ شوی دی.
چارواکي وايي چې ژغورونکې ډلې څلور نور مړي د ودانۍ له کنډوالو څخه را ايستلي او په دې سره د ټولو مړو شمېر ۲۲ کسانو ته ورسېد. د امريکا ميامي ښار ته نږدې د استوګنې د دې ۱۲ پوړيزې ودانۍ زياته برخه د جون په ۲۴مه نېټه ونړېده او له هغه مهاله تر دې دمه پورې د ژغورنې ډلو هېڅوک د ودانۍ په کنډوالو کې نه وو، موندلي، خو تر اوسه هم د ۱۲٦ کسانو نومونه د هغو کسانو په لېست کې دي، چې تري تم دي.
د دې ځلوېښت کلنې ودانۍ له نړېدو وروسته په نورو ښارونو کې چارواکو د لوړو زړو ودانيو د تخنيکي جوړښت په اړه څېړنې پيل کړې تر څو ساختماني نيمګړتياوې يې د اړتيا په صورت کې سمې کړي.
بلخوا امريکايي چارواکو دغه راز ويلي چې ژغورونکې ډلې لا هم د لسګونو ورکو کسانو په لټه کې دي او خبرداری ورکوي چې د مړو شويو کسانو شمېر به ښايي تر دې هم لوړ شي.


## میرزکوال: نیروهای دولتی به حالت تهاجمی بر می گردند



در اوج نبردها میان نیروهای دولتی و طالبان، عبدالستار میرزکوال، سرپرست وزارت داخله می‌گوید که نیروهای دولتی تاکنون در حالت دفاعی استند.
سرپرست وزارت داخله در گفت‌وگو با رسانه ها، تأکید می کند که قرار است به‌زودی نیروهای دولتی به حالت تهاجمی در آیند. او در این باره بیان داشت: «ما روی پلان حالت دفاعی کار می کنیم. قطعاً مرکز شهرها سقوط نخواهند کرد؛ ولایت‌ها خط سرخ ما اند.»
این در حالی است که در دو ماه گذشته در حدود ۱۲۰ ولسوالی بدست طالبان افتاده‌اند. از این میان ۱۳ ولسوالی در شبانه‌روز گذشته به تصرف طالبان درآمده‌اند.سرپرست وزارت داخله چالش‌های مدیریتی را از مهم‌ترین علت‌های افتادن ولسوالی‌ها بدست طالبان می‌داند. سرپرست وزارت داخله، خیزش‌های مردمی را در اوضاع کنونی اثرگذار می‌داند، اما می گوید که هرگاه اوضاع بهتر شود این نیروها در چارچوب امنیت ملی اضافه خواهند شد و به حرکت‌هایی که بعدها پیامد درستی نداشته باشند، اجازه داده نمی‌شود: «یک بندر شیرخان است، ما روی طرح کار می کنیم تا به‌زودی آنجا را از کنترل طالبان بیرون کنیم.»
شماری از شهروندان می‌گویند که هرگاه مردم به‌گونهٔ کامل از نیروهای امنیتی پشتیبانی کنند، این نیروها ظرفیت مبارزه با چالش‌ها را دارند.
با این همه، سرپرست وزارت امور داخله تأکید دارد که حکومت راه حل سیاسی را به راه‌حل نظامی ترجیح‌می‌دهد.

## ژوند

## د ریالمي کمپنۍ نوی ارزان بیه ځیرک موبایل




ريالمي کمپنۍ د ۲۰۲۱ کال په مارچ کې په چين کې خپل پياوړی ځيرک موبايل ريالمي جي ټي ۵جي معرفي کړ، چې پياوړې ځانګړنې او ارزانه بيه يې لرله. اوس ريالمي کمپنۍ خپل دغه ځيرک موبايل نړيوالو بازارونو ته وړاندې کوي. دغه ځيرک موبايل ٦،۴۳ فول اېچ ډي پلس ريزلوشن لرونکې مخ‌پاڼه لري چې له ۱۲۰ هرتز ريفرېش رېټ او ۳٦۰ هرټز ټچ سمپلېنګ څخه هم ملاتړ کوي. ريالمي جي ټي ۵جي کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن۸۸۸ ډوله پروسېسر، ۱۲/۸ ګېګابايټ رم او ۲٥٦/۱۲۸ ګېګابايټ د فايل ثبتونې وړتيا ورکړل شوې ده. دغه موبايل ۴۵۰۰ ملي امپيره وړتيا لرونکې بېټرۍ لري چې له ٦٥ واټ چټک چارج څخه هم ملاتړ کوي. شاتنۍ برخه کې درې کامرې لري چې ٦۴ مېګاپکسله اصلي، ۸ مېګاپکسله الټراوايډ اېنګل او ۲ مېګاپکسله مکرو کامرې پکې شاملې دي. دغه موبايل مخکينۍ برخه کې ۱٦ مېګاپکسله وړتيا لرونکې سېلفي کامره هم لري. د ۸ ګېګابايټ رم او ۱۲۸ ګېګابايټ فايل ثبتونې وړتيا لرونکې بڼې بيه ۳٦۹ يورو او ۱۲ ګېګابايټ رم او ۲٥٦ ګېګابايټ د فايل ثبتونې وړتيا لرونکې بڼې بيه يې بيا ۴۹۹ يورو ټاکل شوې ده.

## له ګرمۍ سره څنګه مبارزه وکړو؟



د اوړي په موسم کې د ګرمۍ سختې څپې د هغه سيمې خلک ډېر اغېزمنوي، چې هوا يې ګرمه وي، خو ورسره څنګ کې روغتيايي کارپوهانو ځينې لارښوونې هم کړې، چې په مرسته يې له ګرمۍ ځان خوندي ساتلی شو.
د ډېرې ګرمۍ پر مهال ډېرې اوبه وڅښئ او ترڅنګ يې سبزيجات او مېوې استعمال کړئ. د ګرمۍ په موسم کې له ناروغيو څخه د خونديتوب لپاره د نيمو لسټونو لرونکې جامې اغوستل پوستکی اغېزمنوي. نرمې جامې واغوندئ، د کاټن لباس غوره کړئ او د لمر له وړانګو د ژغورنې لپاره د لمر ضد عينکې وکاروئ. د بدن د تازه ساتلو لپاره اوبه وڅښئ، خو له کافين لرونکو توکو ځان وساتئ، ځکه چې کافين لرونکي توکي له بدن څخه په ډېره اندازه اوبه خارجوي او په ګرمۍ کې له کوره بهر مه وځئ. پوره خوب وکړئ، که بدن مو ستړی وي، نو ګرمي يې ډېر اغېزمنوي. که چېرته ګرمۍ ووهلی، نو ډېرې اوبه استعمال کړئ، له ګرمۍ ځان وساتئ، که بې هوښي دربانديې راتله، نو ډاکټر ته مراجعه وکړئ.

کوچني او منځني سوداګريز پورونه
عزيزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرايطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بيا ادايني قسطونه يې د يو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کيږي، ترلاسه کړي.
1515 www.azizibank.af
عزيزي بانک
Azizi Bank